مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۸/۱۱/۱۴

# طالبان ولي هزاره ګان وژني؟

له یوې اونۍ راهیسې په کورنیو او بهرنیو رسنیو کې راپوروونه ورکول کیږي چې طالبان په مالستان، جاغوري او خاص ارزګان کې د هزاره قوم وژنه پیل کړې، نه یوازې رسنۍ بلکې ځینې لویدیځ سفارتونه او په ځانګړې ډول په کابل کې د ایران سفارت هم ورته اندیښنه ښودلې ده.
په تیرو ۱۷ کلونو کې چې امریکا او ناټو ځواکونو یوازې پر پښتون میشت سیمو خپل تر ټولو لوی بمونه وازمویل، په شنډنډ، ارزګان، کندوز، د ننګرهار هسکه مینه او د کندهار پنجوايي کې یې د پښتنو تولوژنه وکړه. داسې پښتون میشت سیمه به نه وي چې هلته د امریکا / ناټو ځواکونو لخوا جګړه نه وي شوې.
په خوست او ننګرهار کې چې د افغان ځواکونو لخوا د ملکي افغانانو د وژلو راپوروونه نړیوالو رسنیو ورکړل، د یوناما په ګډون ځینو خپلواکو ادارو هم د ملکي افغانانو وژنه تاید کړه، زموږ هزاره او تاجک ورونه تر هر چا ورباندې ښه خبر دي، خو د پښتنو په شمول، هیچا د هغوی د بې ګناهي او وژنې رغ په کابل او یا بهر هیواد کې را پورته نه کړ.
کندز ښار د طالبانو لخوا سقوط وکړ، فراه ښار ته طالبانو سقوط ورکړ، غزني ښار کې چې ډیر زموږ هزاره او تاجک ورونه په ښار کې مصروف دي، د طالبانو لخوا د حملې پر وخت یې د حکومت پلوه هزاره وسلوالو لخوا مزاحمت ونه شو، بلکې ځینو لا دا تور هم پورې کړ، چې له طالبانو سره ښار ته ننوتلو کې حکومت پلوه هزاره وسلوالو مرسته کړې.
زابل کې چې تر ۳۰ زیات هزاره ملکي کسان (مارچ ۲۰۱۵) د وسلوالو لخوا نیول شوي او برمته شوي وو، طالبانو آ
زاد کړل، په تیرو ۱۷ کلونو کې داسې پیښه نه ده شوې چې طالبانو دې پر ملکي هزاره کسانو حمله کړې وي، او که طالبانو یا بل هر چا دا کار کړی وي، چې پر ملکي هزاره ګانو یې برید کړی وی، موږ ټول ولس یې په کلکه غندو.
عامو خلکو فکر کاوو چې طالبان پر حکومت پلوه هزاره وسلوالو هم برید نه کوي، او په تیرو ۱۷ کلونو کې رښتیا هم د داسې جګړې راپور نه دي ورکول شوی چې طالبانو دې مخامخ پر هزاره وسلوالو برید کړی وي.
په خاص ارزګان کې حکیم شجاعي چې غیر مسؤل وسلوال دی، او په سیمه کې یې ډیری پښتانه ووژل، یو ځل د مخکښي ولسمشر کرزي دحکومت پر مهال (اګسټ ۲۰۱۳) افغان حکومت هم د هغه د نیولو هڅې وکړې، ولې بهرنیو کړیو مداخله وکړه، او شجاعي همداسې د غیر مسؤلو وسلوالو یو شمیر ډلګۍ تر دې مهاله وساتلې.
علي پور هزاره غیر مسؤل وسلوال قومندان چې د میدان وردګ، بامیان، غوربند او غور ولایتونو د لویو لارو په ځینو سیمو کې یې وسلوال له مسافرو سره توپیري او بد چلند کوي، د ډاکټر غني حکومت یې د نیولو (اکتوبر ۲۰۱۸) هڅې وکړې، علي پور له افغان ځواکونو سره جګړه وکړه، وروسته یې د هزاره قوم له منځه دا خبرې وکړې چې افغان حکومت یې د نیولو توان نه لري.
اوس که طالبان د شجاعي، سلطان پور او نورو قومي تعصب ته لمن وهونکو غیر مسؤلو هزاره وسلوالو پر ضد جګړه کوي، په دې معنی نه ده چې د کوم قوم پر ضد جګړه ده، او افغان حکومت هم عملاً له طالبانو سره په جګړه کې بوخت دی، که د حکومت په چوکاټ کې هزاره او طالب جګړه کوي، دا هم هغه جګړه ده چې ۱۷ کاله یې طالب د امریکا او حکومت خلاف کوي، او قومي جګړه ورته نه شو ویلای.
که رښتیا هم په مالستان ولسوالۍ کې ټول دولتي ځواکونه د هزاره قوم وي، دا خپل ذات کې یو ناسم، قومي او تعصبي چلند دی، بیا نو موږ اردو او پولیسو ته ځکه ملي نه شو ویلای، چې په ولسوالۍ باندې تسلط د یو قوم د وسلوالو دی.
که ایران، امریکا او لویدیځ د طالبانو برید په پښتون میشت ځایونو کې د پښتون قوم پر ضد نه ګڼي، په مزار او تخار کې یې د تاجکو او په جوزجان کې یې د ازبکو پر ضد نه بولي، نو بیا هم؛ دلته پوښتنه پیدا کیږي چې د کومو موخو


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولۍ

له کبله ایران، امریکا او ځیني لویدیځ هیوادونه پر مالستان، جاغوري او خاص ارزګان دولتي ودانیو او نظامي تاسیساتو باندي د طالبانو برید د هزاره قوم پر ضد جګړه بولي.
که د ۲۰۰۴ تر ۲۰۰۹ ز کال پوري په ځینو پښتون میشت سیمو کي د هلوکانو مکتبونه تړل شوي وي، د نجونو مکتبونه بیخي وجود په لیري پرتو سیمو کي نه درلود، ولي په جاغوري، مالستان، خاص ارزګان او ټول هزاره میشت سیمو کي د هلوکانو او نجونو مکتبونه خلاص وو، چي دا له هزاره ګانو سره یو ډول توپیري او د طالبانو لخوا امتیازي چلند نه ګڼل کیدی، اوس چي د حکیم شجاعي او نورو هزاره وسلوالو پر ضد طالبان جګړه کوي، هغه هم له دي ویري چي همدغه غیر مسؤل هزاره وسلوال به په راتلونکي کي قومي او مذهبي جګړو ته لاره هواروي، ځیني ورته قومي نوم ورکوي، دا همغه کړی دي چي په تیرو کلونو کي یي بېلابېلې هڅي وکړي تر د عراق په څیر په افغانستان کي هم د سني او شیعه تر منځ جګړه پیل شي.
د فاطمیون لښکر له نوم سره هر افغان بلد دی، فاطمیون په میدان ښار کي ځانګړي وسلوالي ډلګی لري، او همدي فاطمیون لښکر ته د ایراني جنرالانو لخوا روزنه ورکول شوي، ایران غواړي چي د اسلامي دولت (داعش) سره د جګړي لپاره د فاطمیون لښکر غړي افغانستان ته راولي، په دي ورځو کي داسي راپورونه  ورکول کېدل چي فاطمیون مالستان، جاغوري، خاص ارزګان او میدان ښار کي د هزاره قوم د غیر مسؤل وسلوالو تر چتر لاندي خپل ځانونه سمبالوي او فعالیت لري.
همدارنګه ویل کیږي چي د فاطمیون ځیني مشران په کابل کي هم میشت او د ایران په ګټه فعالیتونه کوي، غواړي چي مذهبي شخړو ته لمن ووهي.
یو بله اندیښنه چي ځیني افغان سیاستوال یي لري، ویل کیږي چي د جاغوري او مالستان دولت پلوه وسلوالو له طالبانو سره ترون درلود، طالبانو ته د تګ راتګ پر مهال د دوی سیمو کي کومه ستونزه نه وه، او ویل کیږي چي د مرمیو او ځینو سپکو وسلو او حتی مالي مرستي یي هم له طالبانو سره کولي.
اوس چي د سولي خبري نږدي شوي، زموږ هزاره ورونه به هڅه کوي چي د کورنی جګړي او داعش د ویري له امله د وسلو ذخیري ولري، او وسلي له ځان سره خوندي کړي، او فاطمیون وسلوال په خپلو سیمو کي وساتي.
د امنیتي تړون پر مهال زموږ هزاره ورونه نه یوازي د امریکا او افغانستان ترمنځ د امنیتي تړون ننګه کوله، بلکي هغوی له ۹ امریکایي نظامي اډو څخه یوه اضافه اډه په بامیان کي غوښتله.
اوس چي راپورونه ورکول کیږي چي د امریکا او طالبانو ترمنځ مخامخ خبري پیل شوي، او ویل کیږي چي امریکایي پوځیان به له افغانستان څخه ووځي، له همدي امله ده چي د امریکایي پوځیانو د شتون ملاتړي هزاره وسلوال به په لوی لاس هڅه کوي چي طالبان د هزاره قوم دښمنان وښیي او له امریکایانو به وغواړي چي همدلته خپل نظامي شتون وساتي.
د امریکا/ناټو له پوځي شتون څخه هزاره قوم ډیره زیاته ګټه تر لاسه کړه، د همدي امریکا د شتون له امله ده چي له 8 کلونو راهیسي د غزني ولایت څخه په ناقانونه ډول ټول ۱۱ د ولسي جرګي غړي یوازي د هزاره قوم دي، او دا ځل هم هڅه کیږي چي د دریمې دوري لپاره هم همدا د هزاره قوم وکیلان په ولسي جرګه کي پاتي شي، په داسي حال کي چي اکثریت مطلق د غزني ولایت اوسیدونکي پښتانه دي، او هلته تاجک هم شته، ولي هزاره قوم د غزني د پښتون، تاجک او نورو قومونو حق تر پښو لاندي کړي، د بشر حقونه او نړیوالو ادارو هم سترګي وربانديي پټي کړي.
په امنیتي ادارو (دفاع وزارت، کورنیو چارو وزارت او ملي امنیت) کي هم د پښتون او تاجک حقونه د میرمنو په برخه کي د هزاره قوم میرمنو ته ورکول شوي، دا بېله خبره ده چي پښتني میرمني په امنیتي ادارو کي دندي ته زړه نه ښه کوي، دا رنګه تاجک میرمني هم د هزاره میرمنو په پرتله کمي یادو ادارو کي دندي اجراء کولو ته زړه ښه کوي، ولي پوښتنه داده چي ولي په لوی لاس په امنیتي ادارو کي همدوی (هزاره) میرمنو ته زمینه مساعده کیږي، اوس خو داسي ده چي د دفاع وزارت ځیني مهمي چوکی د امریکا د ډیموکراسي د اصولو خلاف انحصاري شوي او پرته له میرمنو نارینه حق نه لري، چي هغه بست ته حتی ځان نوماند کړي.
داسي ویل کیږي چي د طالبانو او هزاره دولت پلوه وسلوالو  ترمنځ د تړون له مادو څخه په وروسته وخت کي هزاره وسلوالو سرغړونه کړي، او طالبانو هم یوازي د دوی پر دولتي تاسیساتو برید کړی.
ورته تړون څو کاله مخکي په سېمه ایزه کچه په ډنډ غوري کي د طالبانو او دولت پلوه وسلوالو ترمنځ شوی وو، چي بیا وروسته د دولت لخوا مات او جګړه وشوه.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ